# د سهېلي پښتونخوا د مزاحمتي ادب يوه څېړنه

**Resistance Depicted in the Pashto Literature of South Pashtoonkhwa**

ډاکټر نصيب الله سيماب
ډاکټر جاوېد خليل

**Abstract:** *Several research endeavors have been carried out to explore the contents that impart resistance cross cutting. This paper analyses that, what kind of resistance has been posed by the local writers especially that have written their works. The modern literary trends posed drastic changes in the overall paradigm especially with the inception of the progressive literary movement in the subcontinent. It strives to trace the modern trends in literature that has nurtured the trends like Realism and the political connotation of literature.*

کله چې د مزاحمت توری مخې ته راشي نو زمونږ په ذهن کښې يو خاص انځور رابرڅېره شي او په يو خاص فريم کښې ځان ښکاره کړي. په پښتو کښې دا اصطلاح تش د هغه ادب دپاره په کار راوستل کيږي چې د وطن دوستۍ، قام دوستۍ خبره په کښې شوې وي. په پښتو شفاهي ادب کښې دا شی ډېر له ورايه په نظر راځي. مونږ ډېرې داسې ټپې، غاړې او نور څۀ وينو چې په هغه کښې د وطن، قام او اولس سره د مينې او ننګ خبرې شوې وي. په تحريري ادب کښې د امير کروړ نظم د دې ټر ټولو لويه بېلګه ده چې وائي:

"زۀ يم زمری پر دې نړۍ له ما اتل نشته
په هند و سند و په تخار او په زابل نشته
له ما اتل نشته، بل په کابل نشته"(1)

دا رنګه ادب په مجموعه توګه په پښتو ادب کښې شتون درلود او ډېر ارزښت ئې درلود. د دا رنګه ادب ليکونکو خپل غازيان،

---

Chairperson, Department of Pashto, UoB, Quetta
Assistant Professor, Pashto Academy, University of Peshawar

ننګیالیـان، توریالیـان ټولـو تـه پـه درنـه سـترګه کتـل، او سـتایل کیـږي. هـیڅ یـو بېلتـون ئـې پـه میـنځ کښـې نـۀ لیـدل کیـږي. هرهغـه سـړی غـازي ۀ چـې د وطـن او اولـس دپـاره بـه ئـې تـوره وهلـه. دلتـه مـونږ تـه هـیڅ فکـري تضـاد پـه نظـر نـۀ راځـي. فکـري تضـاد هغـه وخـت را مختـه کیـږي چـې انګریـز دې خـاورې تـه راځـي. دلتـه خپلـې منګولـې ښخوي. چـې کـوم وخـت پښـتون وطـن تـه راځـي. هلتـه دۀ تـه د دې شـي ضـرورت پېښـیږي چـې پښـتون پـه وجـودي او فکـري حوالـه تقسـیم کـړي. کـوم وخـت چـې د انګریـز پـه ضـد د ازادۍ تحریکونـه راپورتـه کیـږي. نـو انګریـز دا نظریـه زیاتـه پـه کـار راولـي. چـې کـوم وخـت مـونږ د تحریـك ازادۍ خبـره کـوو نـو پـه ذهـن کښـې مـو د تقسـیم هنـد نقشـه ځـان ښـکاره کـړي. د ازادۍ تحریـك چـې کـوم وخـت پېـل کیـږي د هغـه مـرام د برصـغیر ازادي وه تقسـیم نـۀ ؤ. لـېکن وروسـته داسـې حـالات جـوړ کـړل شـو چـې د ازادۍ دا تحریـك د برصـغیر پـه تقسـیم او د پاکسـتان پـه جوړېدو خپـل انجـام تـه ورسـېدۀ. لـه دې تمهیـد ځخـه مـې یـوه نکتـه واضـح کـول مقصـد دی. هغـه دا چـې کـوم وخـت د ازادۍ تحریـك پېـل کیـږي پـه هغـۀ کښـې پښـتانۀ لیـډران، مشـران د هراولـې دسـتې کـردار لوبـولی دی. پـه دې چـې لـه انګریـز سـره پښـتون تـل پـه حالـت جنـګ کښـې پاتـه شـوی ؤ. کـه پـه برصـغیر کښـې چـا د پېرنګـي لاړ نیـولې ده هغـه پښـتون دی. د پښـتون تـاریخ د دې ګـواهي ورکـوي چـې یـوۀ غاصـب تـه ئـې هـم پـه خپلـه خـاوره د پښـې ټینګولـو موقـع پـه لاس نـۀ ده ورکـړې. هـم دا چلنـد ئـې د پېرنګـي پـه ضـد هـم ؤ. پـه هـم دې بنیـاد پښـتون لیـډر شـپ د کـانګریس ملګرتیـا کـوي او پښـتون پـه مجمـوعي حېثیـت کښـې د ازادۍ پـه جنـګ کښـې برخـه اخلـي چـې پـه هغـه کښـې عالمـان، لوسـتونکي، مـزدوران ټـول شـامل دي. هـیڅ یـو فکـري بېلتـون ئـې تـر مېـنځ نشـته. ځکـه چـې پـه وړانـدې ئـې د انګریـز ځخـه د ازادۍ اخسـتلو مقصـد دی چـې هغـه ئـې پـر خپلـواکۍ، کلتـور او دیـن ټولـو بانـدې قـدغن لګـولی ؤ. خـو کـوم وخـت چـې مسـلم لیـګ پـه وجـود کښـې راځـي او د اسـلام نـاره وهـي. هغـه وخـت پښـتون پـه واضـحه توګـه پـه دوو ډلـو کښـې وېشـل کیـږي. دغـه وېش د پېرنګـي پـه وخـت کښـې پېرنګـي راوسـتلی ؤ خـو

تر دې وخته پورې پتې ؤ. په هم دې تاريخي تناظر کښې به د سهېلي پښتونخوا د مزاحمتي ادب جاج ستاسو و مخته کښېږدم.

لکه څنګه چې مې مخکښې ووئېل چې په سهېلي پښتونخوا کښې چې مونږ د پښتو ادب جاج اخلو او د پښتو ادب په تاريخي تسلسل کښې ئې ګورو نو مونږ ته له شروع څخه د مزاحمت رنګ غالب په نظر راځي. او له دې سره سره مونږ ته مذهبي افکار هم ډېر په واضح توګه په نظر راځي.

"د دې بنيادي وجه دا ده چې پښتون بحثيت قام اسلام قبول کړی او د خپل ماضي سره ئې ټولې رشتې پرې کړې. هم دا لامل دی چې زمونږ د بزرګانو او مشرانو تاريخ له اسلام څخه پيل کيږي. د اسلام په لومړي دور کښې د امير کروړ، ملك يار غرشين رنګه سرداران، د بېټ نيکهٔ او بختيار کاکي رنګه بزرګان هم موجود وو"(2).

تر اسلام له مخه مذهبي، سياسي او مزاحمتي ټولې شتمنۍ ته اور اچوي او پښتو ادب خپله دويمه ابتدا او سفر د دې خلقو تر سيوري لاندې پيل کوي او پرمختګ کوي چې په هغو کښې هر رنګه افکار مونږ ته په لاس راځي. د ډېر لوئ سفر وروسته چې پښتو ادب خپل زرين دور هم وينې د يو داسې دور سره مخامخ کيږي چرې چې ئې په ادب د جمود سيورى پرېوځي او ادب ئې د جمود ښکار کيږي. خو په خپل زرين دور کښې د مختلفو فکرونو فرواني مونږ ته په پښتو ادب کښې په سترګو کيږي.

"د تقسيم نه مخکښې پښتو ادب کښې عشقيه، طربيه، رزميه او تاريخي ليکونو سره د تصوف معرفت، کشف او سلوك ادب هم تړلی را روان ؤ. خال خال په کښې د جنګونو د شخړو او قبيلو تر مينځه مبارزې هم وې. بيا وروسته د ازادۍ جنګ پښتو ادب ته د ادبي تحريك لاره سمه کړه. او هغې جديد او ارتقائي ادب، فکري انقلابي ادب وده ومونده چې نن پرې مونږ ناز کوو"(3).

د پښتو ادب په دې تاريخي پس منظر کښې د جنوبي پښتونخوا خپله برخه ده لېکن د دې دومره زوړ تاريخي روايت درلودلو باوجود سهېلي پښتونخوا بلکې ټول پښتو ادب تر ډېره وخته پورې د حالاتو له

کبله پټه خوله پاته شوی دی. دې خوا ته محترم عبدالکريم بريالي داسې اشاره کړې ده:

"د اتلسمې او نولسمې پېړۍ د پښتو شاعرانو او ليکوالو په باب د ادب تاريخ خاموشه دی. ډېر ليکوال د ماضي په اديرو کښې ښخ شو خو حالات ئې معلوم نۀ شول"(4).

دا حالات ځکه جوړ وو چې پښتون وطن د ګډوډۍ ښکار ؤ او غاصب قوتونه په دې هڅه کښې وو چې دا وطن تر خپلو پنجو لاندې راولي او د غلامۍ طوق ور په غاړه کړي. او پښتانۀ په دې هڅو لګيا وو چې د خپل وطن وجود سالم وساتي خو پېرنګي د خپلې مخصوصې حکمت عملۍ تحت د ډيورنډ کرښې له لارې د پښتون وطن وجود تقسيم کړ چې په نتيجه کښې ئې د انګرېز تر لاس لاندې سيمه بيا په خاص ډول جنوبي پښتونخوا کښې په پښتو ادب کښې يوه خلا رامېنځ ته شوه.

"د مغرب څخه د راغلي سامراجي او استعماري نظام پښتون ښکار شو چې پايله د پښتون وطن، پښتون اولس او قوميت، پښتون اقتصادي او مادي شتمنۍ تر دې حده چې ادب، ژبې او ثقافت ټول تر يوې پېړۍ پورې په تيارۀ کښې کښېښوول شو چې و هغه ته مونږ د پښتو ادب تور دور وايو"(5).

د دې تور دور او خاموشۍ لاملونه د پېرنګي جبر او بل د کندهار څخه د دې سيمې بېلېدل وو. کندهار هغه وخت د علم او ادب مرکز ؤ. د دې سيمې ټول عالمان او اديبان له کندهاره فيض اخستو. په جبر د راجلا کېدو په وجه دا فيض وربانديې ودرېدۀ. او "هغه وخت په دې سيمه باندې د کندهار د ليکوالو اثر زيات خپور ؤ. دلته د کال 1893ء له مخه د افغانستان عملداري هم قائمه وه"(6).

په همدې حواله په کال 1958ء کښې د قند د جولائي/ اګست په خصوصي ګڼه کښې د پښتو ستر نقاد اياز داودزی داسې ليکي:

"د پښتو ليکوال په دې علاقې کښې ولې کم دي؟ دا يوه لويه قيصه ده خو په لنډو به داسې ووايو چې په دې علاقه کښې پښتو "ليك لوست"

هډو د سره نهٔ ؤ نو بیا پښتانهٔ لیکوال له کومه را پیدا شي، بلکه خبره دا هم ده چې په دې علاقه کښې تراوسه د پښتو اخبار یا رساله هم نهٔ وه چې د پښتو لیك او لوست ته ئې د خلقو پام کړی وای".(7)

دا هغه وجوهات وو چې په پښتو ادب په سهېلي پښتونخوا کښې جمود وغوړېد. پېرنګي سامراج هغه وخت د خپلو سامراجي ګټو دپاره په دې وطن کښې د یو داسې جنګ بنیاد کښېښود چې د هغه تاؤ تراوسه پورې هر ځای تر پښتون خیژي. چې نن ئې انتها مونږ په بله بڼه کښې وینو. د پېرنګیانو سره مبارزې که پښتو ادب ته ژوند بخښلی دی خو پښتانهٔ ئې د علم په میدان کښې ډېر شاته په یوه توره غاره کښې پورې وهل چې د هغه بیه زمونږ دا وطن د ترهګرۍ په بڼه کښې ورکوي. یعنې زمونږ وطن او اولس ئې له دې ستړې سره مخامخ کړ.

"چې د نولسمې پېړۍ په سر کښې پېرنګیانو د بلوچستان (جنوبي پښتونخوا) سیمه د افغانستان په ضد په کار راوستله، نو هغه وخت د انګرېزۍ سره سره اردو هم په ټول هندوستان کښې د اظهار ذریعه درجه ترلاسه کړې وه او د سرکاري حېثیت سره سره د ادبي ژبې په توګه ئې د فارسي ځای نیولی ؤ. د انګرېزانو زیاته توجه د بلوچستان په سرحدي سیمو باندې ؤ. او هغوئ د اردو سکولونو د جوړولو سره سره په سرکاري سطح د اردو ژبې د ترویج او پرمختګ په کار لاس پورې کړ"(8).

له دې ځایه څخه پښتانهٔ د ژبې او فکر په حواله هم د ډیورنډ د کرښې رنګه صورتحال سره مخامخ شو. په ماجتونو او مدرسو کښې د عربي او فارسي سره سره په پښتو کښې درس ورکول کېدو. دلته د پښتو ژبې یو رنګه حفاظت په غیر شعوري توګه کېدو. بلې خوا ته سرکاري سکولونو ته پښتنو خپل بچیان نهٔ استول. خو کوم بچیان چې د درس وئېلو دپاره تلو هغه هم داسې وو لکه ګونګیان او کاڼهٔ، ځکه چې اردو ژبه ئې نهٔ وئېلی شوه نهٔ به په پوهېدل چې د هغه پایله نن مونږ د یو داسې نسل په بڼه کښې وینو چې پښتو خو وئېلی شي لېکن لیك او لوست نهٔ شي باندې کولی. پېرنګي په شعوري توګه پښتون وطن او اولس په دوو

ډلـو کښـې تقسـيم کـړ ولـې چـې پـه راتلـونکي وخـت کښـې د دوئ تقسـيم او بيـا لرېـوالی د انګرېزانـو د مفـاداتو ضـامن وګرځـي. يـوه ډلـه هغـه وه چـې د پېرنګـي سـرکار تـابع وه او د سـرکاري سـکولونو پـه حـق کښـې وه. دويمـه ډلـه هغـه وه چـې د سـکولونو پـه مقابـل کښـې ئـې و دينـي مدرسـو تـه اهميـت ورکـاوۀ. او دا بـه ئـې وئېـل چـې پـه دې سـرکاري سـکولونو کښـې د عيسـائيت تبليـغ ورکـول کيـږي. د دې دوو ډلـو پـه ميـنځ کښـې يـوه دريمـه ډلـه هـم مـونږ تـه پـه نظـر راځي چـې د دينـي مدرسـو سـره سـره د عصـري علومـو ترلاسـه کولـو پـه حـق کښـې هـم وو او د پېرنګـي تسـلط پـه خـلاف د مبـارزې پـه حالـت کښـې هـم وه. پـه دې درې واړو ډلـو کښـې طـاقتوره ډلـه د مدرسـو د پلويـانو وه. پـه عصـري علومـو کښـې پښـتون ځکـه پرمختـګ و نـۀ کـړ چـې پـه نـورو ژبـو کښـې ؤ او دا چـې علـم ترلاسـه کولـو والاتـه کـافر وئېـل کېـدو. او د دينـي مدرسـو علـم هـم پـه نـورو ژبـو (عربـي، فارسـي) کښـې ؤ چـې پښـتون ئـې پـه خـاص دائـره کښـې بنـد پاتـه کـړ. او دينـي مدرسـو پـه خپـل روايتـي علومـو کښـې و جـدت تـه د ځـای ورکولـو روادار هـم نـۀ ؤ نـۀ ئـې د علـم پـه پښـتو ژبـه کښـې د اړولو هڅه کړې ده، د بل په ترجمه ئې تراوسه پورې تکيه ده..

پښـتو ژبـه د تعليمـي ادارو هغـه کـه مدرسـې وې کـه سـکولونه، ژبـه نـۀ وه بـس تـش د اولـس ژبـه وه هغـه هـم د وئېلـو تـر حـده. ځکـه ئـې پـه شفاهي ادب او تحريـري ادب کښـې د اولـس نمائنـدګي شـروع کـړه. او تـش تـر ادب پـورې محـدود پاتـه شـوه. پـه دې دوره کښـې يعنـي د پېرنګـي د تسـلط څخـه ئـې واخلـې بيـا تـر ازادۍ پـورې مـونږ پښـتو ادب پـه دې سيمه کښـې پـه درو برخـو وېشـلی شـو. لـومړی اولسـي ادب دويـم چـې پـه مدرسـو، جومـاتو او د خلقـو پـه حجـرو کښـې د بانـډار پـه بڼـه کښـې تخليـق شـوی ادب او درېـم چـې ترقـي پسند ادب په نامه وپېژندل شوه.

د اولسـي ادب پـه حوالـه پـه سـهېلي پښـتونخوا کښـې پـه خـاص ډول د ښـځو شـاعري د دې دور يـو قابـلِ ذکـر برخـه ده چـې د ټپـو او غـاړو پـه بڼـه کښـې ئـې د پښـتانۀ وينـه ګرمـه سـاتله. او هغـه خلـق ئـې سـتايل چـې د پېرنګي په خلاف په مبارزه کښې ولاړ وو چې څۀ نمونې ئې دا دي:

"سـور د مـړ کـئ سيکهـ زخمـي :: بخـت نـامې ځـان د کـئ غـازي (9)
"قـام د پـرې سـي پـر نيمـي :: بخـت نامـه مچهـ لـه وړي پيکـي (10)
"بنگـل مـړ ظريـف تپـي دی :: پـر ړوب رغ د پيرنگـي دی (11)
"بنگل مـړ کـاکړ خبـر سـو :: ړوب لـه بيـا پيرنگيـان تـر سـو (12)
"روڼ توپـک روڼ کارتوسـان :: لـه غـرو راکـوز سـو بلوخـان
د سـړک غـاړې پـه سـرې :: دلتـه خيـرات کـړی پـالې
نيمـه شـپه ده تروږمـی :: کتـا پـه لاس ولـي گـولی
پيرنگيـان اوړي پـر غـرو :: پـه ځنـگ توپـک دی د يـارو

دا ټولـه شـاعري د هغـه وخـت تـاريخ ښـايي چـې د نولسـمې پيړۍ پـه اخـر کښـې پيرنگيـانو د فـورټ سنډيمن کـلا د کـوه سـليمان پـه لمـن کښـې جـوړه کـړه چـې لـه دې لارې ئـې کاکړسـتان او وزيرسـتان پـه يـوۀ وخـت تـرلاس لانـدې راوستو هڅې کولې"(13).

د اولسـي ادب پـه حوالـه وئيـل کيـږي چـې دا د يـو قـام د ژونـد د هـرې ځـانگې ښـکارندوئ دی. دا خصوصـيات زمـونږ پـه فوکلـور کښـې هـم ليـدل کيـږي. لکـه څنگـه چـې تاسـو پـه پورتـه غـاړو کښـې وکتـل. کـوم ادب چـې پـه دې وخـت کښـې پـه مدرسـو کښـې چـې هغـه وخـت ئـې تعـداد ببخـي کـم ؤ. جومـاتو او د پښـتنو پـه حجـرو کښـې تخليـق کيـدو. کـه څـۀ هـم پـه هغـه بانـدې مـذهبي او مجـازي رنـگ غـالـب پـه نظـر راځـي لـيکن پـه هغـه کښـې هـم مـونږ تـه مقـاومتي شـاعري ډيـره پـه ښـکاره ترسـترگو کيـږي. هغـه وخـت د ماجـت پـه حجـره کښـې چـرې چـې بـه طالبـان اوسـيدل. د هـرې جمعـې پـه شـپه بـه بانـډار کيـدو چـې پـه هغـه کښـې بـه شـاعرانو پـه تـرنم خپلـه شـاعري وئيلـه. د بانـډاري شـاعري خپـل هيئـت دی چـې تفصـيل ئـې بـل وخـت تـه پريـږدو. پـه دې بانـډاري شـاعري کښـې د پيرنگـي خـلاف د وطـن پـه دفـاع کښـې کومـه مزاحمتـي شـاعري شـوې ده يـوه نمونـه ئـې تاسـو تـه ړدم چـې د مـلا نيـک محمـد اخونـد چـې د ضـلع پښـين کلـي خانوزئي اوسيدونکی ؤ ليکي:

"فیض محمد غازي ئې مړ کړ سرۀ لاسونه
د اسلام پر زړۀ ئې کښېښوول داغونه
فیض محمد وئیل له کفره را رهي شوم
په زیارت کي خلق خلاصیږي زۀ بندي شوم
د اسلام پر حال خو زۀ په زړۀ زخمي شوم
د لمانځۀ پر ځای مي وتړل لاسونه
فیض محمد وئیل زما پر سر به نیم سېری دی
زۀ پوهېږم له دې واره زما مرګی دی
چي دښمن مي بې ایمانه پېرنګی دی
د بله چا څخه نۀ کړم شکایتونه (14)

د یو بل شاعر جان ګل اشعار څۀ په دا ډول دي:

"جرنېل جوړ کوو فوځونه :: راځئ چي پسي ځونه :: بنګل را یاتوینه
توپو کي به ئې مړۀ کوو :: که هر چا وکړئ انکاره :: په مرسته د سرکاره (15).

دا د هغه دور شاعري ده چي په بانډار کښې به په جوماتو او حجرو کښي وئېل کېده.

زمونږ د سیمې د تکړه لیکوال عبدالکريم بريالي پلار ملا ظريف اخوند کاکړ هم په خپله شاعري کښې وايي:

"په شریعت د اسلام :: دا وطن زما دی د ځان
ټوله عالم پر دا ګوا له ما څۀ ولاړ پېرنګی
په حق حق دار یم ښکاره :: دا وطن زما همېشه
د دې وطن پښتون حقدار دی که څۀ لوئ که کوشنی
دا وطن زما دی ښکاره :: عالم دی ټوله ګوا
نن پر پنجشېر دره جنګیږي د لندن فیرنګی
دا وطن حق دی زما :: تاریخ همېش دی ګوا
د خپل وطن په ازادی به دښمن وخورم ژوندی

پــر نیمــه شــپه یــم روان :: کمــر بســته مــې کــاروان
کــاروان زمــا دی را روان نــهٔ کــړي مســکن یــو ســاتکی

خــان او ملــك و ســردار، ناســت پــه امــان دي قــرار
کــه عــالم ټولــه ســي بربــاد چــې خــالي نــهٔ شــي کرســۍ

خــاص د لنــدن پېرنګيــان، ړغــوي دلتــه دوســتان
کشــتار شــروع کــئ در روانــي دي ډالــر او روپــۍ

دي را روانــې پيســې، تــر ديــن لمبــې وختــې
ديــن و دنيــا مــو کــړو بربــاد حســاب پــه غــوارې لــه تــی (16)

اوس هغــې شــاعري تــه راځــو کــوم چــې مــونږ د درېمــې ډلــې پــه نامــه پــه سـر کښـې يـاده کـړې وه. دا هغــه ډلــه ده چــې د عصــري علومــو پــه حــق کښــې وه لــېکن د پېرنګــي مخــالف وه. پــه دې دور کښــې دې ځــای علمــاوو د پېرنګــي پــه مخالفـت کښـې د عصـري علومـو مخالفـت هـم شـروع کـړ چـې تـر ننـه پـورې پـه يـوه نـه يـوه بڼـه کښـې ليـدل کيـږي. پښـتون قـام بـه حېثيـت مجمـوعي د مـلا زېـر اثـر پاتـه شـوی دی. د هـم دې اثـر لـه کبلـه عصـري علومـو تـه نـهٔ شـو متوجـه کـوم خلـق چـې د عصـري علومـو پـه حـق کښـې وو. لـېکن د پېرنګـي پـه ضـد د ازادۍ لــه تحريکونــو ســره ملګــري وو. د عصــري علومــو ترلاســه کولــو د حــق پـه وجـه دا خلـق د علمـاوو پـه نظـر کښـې د يـو سـازش پـه وجـه د ديـن دښـمنان وګرځېـدل. ځکــه د دوئ او د ملايــانو پــه مېــنځ کښــې فاصــله راغلــه. او دا د پېرنګـي پـه ګټـه خـو وه ولـې د اسـلام او د پښـتنو پـه ګټـه هيڅکلـه نـهٔ وه. ځکـه ئـې د دې خلقـو فکـر پـه پښـتون اولـس کښـې متنازعـه کـړ چـې پـه هغـه کښـې باچاخان او خان شهيد يو ښکاره حېثيت لري.

"پــه موجــوده صــوبه ســرحد (خېبــر پښــتونخوا) کښــې انجمــن اصــلاح افاغنــه تــر قيــادت لانــدې د انګرېــزي ســامراج پــه خــلاف د قــومي ازادۍ د انجمــن وطــن پــه قيــادت کښــې د خــان عبدالصــمد خــان او د هغــهٔ ملګــرو د قامي ازادۍ جنګ شروع شو"(17)

د پښتو د جدید ادب بنیاد د شلمې پېړۍ په لومړي سر کښې اېښوول کېږي چې د ازادۍ سره تړلي خلق دا بنیاد ږدي. خان شهید په سهېلي پښتونخوا کښې د مزاحمتي تحریك د سرخېل په توګه نهٔ تش دا چې د سیاست بلکې صحافت او ادب ته ئې هم بهر پوره توجه ورکړې وه. د کسې ګلان د سېهلي پښتونخوا لومړۍ ادبي تذکره ده په هغه کښې حافظ خان محمد لیکي:

"خان شهید د بلوچستان لومړی کس دی چې د انګرېز سامراج و مختته د خپلو حقوقو ږغ پورته کوي. په دې وطن کښې هغه د سیاسي بیدارۍ مؤسس دی"(18).

خان شهید تش د سیاسي بیدارۍ مؤسس نهٔ ؤ بلکې په سهېلي پښتونخوا کښې د بابائې صحافت په نامه یادیږي او د جدید پښتو ادب په بانیانو کښې دی. د نورو ژبو څخه په پښتو کښې د ژباړو بنسټ اېښودونکی دی. "دی یواځینی سیاسي رهنما دی چې په پښتو کښې ئې تر ټولو زیات کتابونه ولیکل او هغه هم په جېل کښې"(19).

د خان شهید په حقله ایاز داود زی لیکي:

"عبدالصمد خان اڅکزئي د لیك دود او د ژبې سوچه والي په حقله ډېر کار کړی دی، لیك دود ئې یو ځان له لیك دود دی او د ژبې د سوچه والي دومره خیال ساتي چې پښتو کښې ځنې مروج ټکي دومره ګران کړي چې په برېکټ کښې تشریح لازمي شي لکه شاعر ته "پوهیت" کتاب ته پاړکی او عدالت ته میانځګړی وائي، د سعدي د ګلستان ترجمه ئې په اووۀ کاله کښې کړې ده...... د ابوالکلام د ترجمان القرآن ترجمه ئې هم کړې ده او د امام غزالي کېمیائې سعادت ئې په پښتو کړی دی، اوس د پښتو ډکشنري لیکلو په کار بوخت دی خدای دې وکړي چې دغه ګران کار سر ته ورسوي"(20).

د خان شهید په ژباړل شوو کتابونو کښې د اسلامي کتابو سره سره د انګرېزي څخه ژباړه هم شامله ده. خان شهید د ادبیاتو د لیك د خپرولو دپاره د "استقلال" اخبار اجرا کوي چې د اردو ژبې سره سره د پښتو برخه

هم لري. د دۀ په تقليد کښې اديبان د ازادۍ په کاروان کښې شامل شو. زمونږ يوه شاعره بي بي خديجه د خان شهيد د جېل څخه په را خلاصېدو داسې خراج تحسين ورته وړاندې کوي:

"د پښتون د باغ باغوانه سترې مه شې
د پښتون د ژوند سامانه سترې مه شې
د وطن د ازادۍ د جنګ دپاره
شوې په مخ کښې د هر چا نه سترې مه شې(21)

دا رنګه د ازادۍ د کاروان يو ستر مبارز خوشحال خان خټک ثاني د سهېلي پښتونخوا خوشحال خان خټک ملا عبدالسلام عشېزی د خان شهيد د ملګري په توګه پېژندګلوي لري. د خپل قلم څخه ئې د توري کار واخست او د انګرېز په خلاف ئې د يو خاص مقصد او هدف دپاره په کار راوسته چې د انګرېز عيار ذهن وربانددې پوه شو او د دۀ ديوان ئې وسوزولو.

"ملا سلام بابا د دې پېړۍ د دويمې لسيزې لومړی انقلابي او اصلاحي شاعر ؤ چې په انګرېز ئې سخت تنقيد وکړ. دی زنداني کيږي او ديوان سوسن چمن ئې ضبط کړل کيږي او په 1933ء کښې سوځول کيږي"(22).

په هغه وخت د پېرنګيانو په خلاف د ازادۍ تحريک ډېر په زور کښې ؤ. د سهېلي پښتونخوا پښتنو هر ډګر ته د مزاحمت توره په لاس وردانګل چې رهنمائي ئې خان شهيد کوله. د خان شهيد ملګری ملا عبدالسلام بابا شاعري ځکه تر عتاب لاندې راغله چې دۀ د قلم له لارې د پېرنګي غاصبانه سوچ رسوا کاوۀ. سلام بابا په دې خبر ؤ چې دا پېرنګی د پښتون وطن پر وجود د ډيورنډ کرغېړنه کرښه کش کړې ده. دا شی ئې د خپلې شاعرۍ مرکزي نکته وګرځوله او غازي امان الله خان ئې و پښتانۀ ته د يو جديد ليډر په بڼه کښې وړاندې کړ. چا چې د پېرنګي څخه د افغانستان د ازادۍ اعلان کړی ؤ. سلام بابا د يو ماهر نفسيات په رنګه د خپلې

تـولنې نفسـيات مـخ تـه ږدي او بيـا د پېرنګــي فکـر د دوئ د سـوچ مطـابق داسې رسوا کوي:

نصـــارا خپـــل ســـلطنت ټينګـــوي خلقـــو!
نـــهٔ ګـــاډئ ستاســـو دپـــاره ده نـــهٔ تـــار

تـــر هغـــو چـــې..... د نصـــارا شـــته
دوبـاره تکيـه پـر خـان نـهٔ پـر مـلا شـته (23)

دلتـه سـلام بابـا ډېـر پـه ډاګـه دا خبـره کـوي چـې پـه خـان او مـلا کښـې داسـې خلـق شـته چـې بـاور نـهٔ شـي پـه کېـدی. پـه کـار دا دی چـې داسـې خلـق وپېژنـدل شـي خـو د داسـې خلقـو پېژنـدګلوي نـهٔ هغـه وخـت وشـوه او نـهٔ بيـا وشـوه. د همـدې خلقـو لـه لاسـه د پښـتون قـام دوه سـتر قوتونـه لـه يـو بـل سـره لاس و ګرېـوان شـو. دا رنګـه سـلام بابـا د هغـو ټولـو غاصبانو نشـاندهي وکـړه د کومـو لـه کبلـه چـې د پښـتون پـه غـاړه کښـې پېرنګـي د غلامـۍ زنځيـر وراچـولی ؤ. د سـلام بابـا سـره سـره د مزاحمـت پـه دې ډګـر کښـې جـان ګـل، ديـن محمـد افغـانی، ملـك محمـد خـان، مـلا نېـك محمـد ، مـلا سـېد نـورالله او په ښځو کښې بي بي خديجه او ماګله خورکۍ د ذکر وړ دي.

پـه اولسـي ادب کښـې دا رنګـه بـې شـماره نمـونې مـونږ لـرو. د مضـمون د طوالت له کبله تش دغه يوه ټپه د نمونې په توګه راوړم:

کــه پــه وطــن بانــدې شــهيد شــوې
پـه تـار د زلفـو بـه کفـن درلـه ګنډمـه

اوس يـو خـاص خبـرې تـه راځـم چـې د مقـالې پـه سـر کښـې مـې کـړې وه. هغـه لـږ واضـح کـول غـواړم چـې دلتـه د پښـتون پـه فکـر کښـې بېلتـون څنګـه راغلـو؟. د ازادۍ لـه تحريـك سـره د ټولـو خلقـو سـره يـوه لوبـه دا وشـوه چـې بنيـاد ئـې پېرنګيـانو زمـا پـه خيـال ډېـر وختـي لا پـه شعوري توګـه د پښـتنو پـه سـيمه کښـې د اردو سـکولونو پـه جوړولـو ايښـی ؤ. د ازادۍ د جدوجهـد پـه دوران کښـې دا خلـق د کـانګريس سـره ملګـري وو. د پاکسـتان د جوړېـدو وروسـته د دوئ دا عمـل پـه پښـتون اولـس کښـې پـه خصوصـي توګـه او پـه

پاکستاني اولس کښې په عمومي توګه د اسلام مخالف په توګه وړاندې کړل شو چې په نتیجه کښې ئې پښتون په پاکستان کښې له ژبې او نامه څخه بې برخې پاته شو. دا خام خیال هغه وخت نور پوخ شو چې دا خلق د ترقي پسندۍ و خوا ته مائل شول. تر ازادۍ له مخه او وروسته زمونږ ادب د ترقي پسندۍ لاز نیولې وه. د دې وجه د پېرنګي غاصبانه سوچ او د قامونو غلامي وه. دویم عالمي طاقت د دې خلقو حمایت ځکه کاوۀ چې هغوئ د سرمایه دارانه نظام په ضد وو. که څۀ هم د ترقي پسند ادب بنیاد په مارکسېزم پروت ؤ خو پښتون ادیب هغه وخت تش د خپل حق او ترقي دپاره دې خوا ته مایل وو نۀ د مارکسېزم نظام دپاره. دغو خلقو چې د خپل حق او ترقۍ دپاره د نېشنلزم په دائره کښې ناره پورته کوله. تش د پښتون قام د حقوقو خبره ئې کوله. په پښتنو کښې د کافر او په پاکستاني اولس کښې د غدار نومونه ورکول شو. د دې لاملونو له کبله چې تخم ئې انګرېز ایښې ؤ. پر مخ په دوو واضح ډلو کښې وېشل کیږي. جبکې حقیقت دا دی چې خدایي خدمتګار تحریك او په سهېلي پښتونخوا کښې د خان شهید تحریك تش او تش د وطنیت او د پښتون قام د حق دپاره په پښتونولي باندې ولاړ ؤ. د مذهب په حواله د اسلام څخه علاوه بل هیڅ فکر په دوئ کښې مونږ ته په نظر نۀ راځي خو پر مخ مونږ ته په یوه ډله کښې د مارکسېزم نخښې او په بله ډله کښې د ملائیت نخښې په نظر راځي. او زما په خیال دواړې د انتها پسندۍ و خوا ته ځي چې فکري تضاد ئې د قلم پر ځای توپك په لاس ورکوي. او پښتني اصطلاحات چې د پښتنو ننګ، وطن پرستي او اسلام دوستي له لرې څخه ښکاره کېدۀ بدلون راځي. غازي په مجاهد بدلیږي، غزا په جهاد بدلیږي، خدائي خدمتګار د خان شهید ورور پښتون په کامرېډ او خلقي په پرچمي بدلیږي. او و دې تفاوت ته هوا ورکول کیږي. د یو او بل عالمي طاقتو په مرسته جبکه د پښتون خپل تشخص چې پر پښتون ریالېزم باندې پروت دی بنیاد ئې پښتونولي، وطن دوستي او په اسلام پروت دی. د دې عالمي قوتو په جنګ کښې په

شعوري توګه دې طاقتونو ورك كړ ځکه چې دوئ د خپلو ګټو سره كار لري. نۀ د پښتون قام له ګټو سره.

نن هم هغه ادب هغه كه شفاهي وي كه تحريري د پښتون اولس په زړۀ او ذهن كښې ځاى لري چې هغه د پښتون قام نمائندګي كوي. نۀ د مجاهد، جهاد، كامريډ يا خلقي نمائندګي.

او هغه ادب چې د مجاهد، فدائي، جهاد، كامريډ يا خلقي نمائندګي كوي هغه د هغوئ د پلويانو دپاره خو د خوښې وړ كېدى شي او مزاحمتي هم، ليكن د پښتون قام دپاره نۀ هغه مزاحمتي ادب دى نۀ رزمي. ځكه چې پښتون خپله نظريه لري دا له خوشحال خان بلكې له امير كروړ څخه ئې راواخلې بيا تر ننه پورې د پښتون په زړۀ كښې ځاى لري. هغه دى پښتون رياليزم چې بنياد ئې د پښتون د مزاج، ثقافت او اقدارو په رڼا كښې اولس په غير شعوري توګه ايښى دى. چې په تپو كښې ئې څو نمونې ستاسو و مخته ايږدم.

جانان مې جنګ كښې توره وكړه
ځكه همځولې راته ګوتې سمونه

توره په لاس توپك په غاړه
سترګې مې دواړه ستا په لور نيولې دينه

زما په مخ لاړې را تو كړه
كه مې د ننګ ګولۍ پر شا خوړلې وينه

د ازادۍ ناوې جوړيږي
هر يو زلمى نارې وهي زما دې شينه

د وطن جنګ له پېغلې راغلې
د لوپټو نه بيرغونه جوړوينه

تپوتې توتې په تورو راشې
د بې ننګۍ اواز دې را مه شه مينه

# حوالې

(1) هوتك، محمد، پټه خزانه، دوېم چاپ، د پوهنې وزارت دارالتاليف رياست، 1339هـ ش، مخ 34.
(2) بریالی، عبدالکریم، پشتو ادب، بیسویں صدی میں بلوچستان کا ادب، مرتبہ افضل مراد، کوئٹہ، قلم قبیلہ ٹرسٹ 2000ء ص47،48.
(3) اقبال، محمد اقبال، جدید غزل، مشمولہ جرس، (غزل نمبر) کراچی، جولائی، دسمبر 1992ء، مخ111.
(4) بريالی، عبدالکريم، د پښتو ادب زرکليز جاج، ليکنځې لومړی ټوك، پښتو اکېډمي کوټه، 1984ء، مخ 99.
(5) بازی، فضل الرحمٰن، جدید پشتو ادب میں ترقی پسند رجحانات، مشمولہ طلوع افکار، شمارہ 10، کراچی، 1989ء.
(6) بريالی، عبدالکريم، د پښتو ادب زرکليز جاج، مخ 102.
(7) داودزی، اياز، ادبي هڅې، دانش کتابتون پېښور، 2002ء، مخ 377.
(8) ناصر، آغا محمد، بلوچستان میں اردو شاعری، کوژک پبلشرز کوئٹہ، 2000ء، ص24،25.
(9) غوټی، خاورې، د پښتو شفاهي ادب شکل او نمونې، د علومو اکادمۍ د ژبو او ادبياتو مرکز کابل، 1955ء، مخ 171.
(10) هم دغه، مخ 172.
(11) هم دغه، مخ 15.
(12) هم دغه
(13) هم دغه
(14) خان محمد حافظ، د کسې ګلان، بلوچستان بکډپو کوټه 1989ء، مخ 221، 222.
(15) هم دغه، مخ 41، 42..

(16) ملا ظریف اخوند کاکړ، د پښتونخوا نغمې، ملا ظریف اخوند کاکړ فاؤنډېشن کوټه، 2011ء، مخ 183.
(17) بازی، فضل الرحمٰن، جدید پشتو ادب میں ترقی پسند رجحانات،
(18) خان محمد حافظ، د کسې ګلان.
(19) حمید اللہ، صاحبزادہ، پشتو ادب بلوچستان میں، پشتو ادبی بورڈ پشین، 2006ء.
(20) داودزی، ایاز، ادبي هڅې، مخ 384، 385.
(21) خان محمد حافظ، د کسې ګلان، مخ 56.
(22) بریالی، عبدالکریم، پشتو ادب، بیسویں صدی میں بلوچستان کا ادب، ص 51.
(23) رفیقي، عبدالرؤف، د کوډك ستوری، کوټه، 1987ء، مخ 87.